بې‌شکه لومړۍ ډله چې جنت ته به داخلېږي، د بدر د شپې (څوارلسمې) سپوږمۍ په څېر به ښکلي وي؛ بيا ورپسې کسان به د آسمان د تر ټولو رونړ ستوري په شان ځلېږي

له ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: بې‌شکه لومړۍ ډله چې جنت ته به داخلېږي، د بدر د شپې (څوارلسمې) سپوږمۍ په څېر به ښکلي وي؛ بيا ورپسې کسان به د آسمان د تر ټولو رونړ ستوري په شان ځلېږي دوی به نه تشې متيازې کوي او نه ډکې، او نه به لياړې او بلغم تو کوي، د هغوی ږمنځې به له سرو زرو څخه وي او خولې (عرق) به يې مشک وي، بخورونه (د خوشبويۍ مواد) به يې د (عود الأنجوج) څخه وي (دا د خوشبويه لرګي يو ښه کيفيت لرونکی لرګی دی چې د دودولو پر مهال ښايسته بوی کوي)، يو ډول خوشبويي ده، ښځې به يې حورالعين وي، ټول به د يوه سړي په شکل وي؛ د خپل پلار آدم په صورت، چې قد به يې شپېته ذراعه لوړ وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د مؤمنانو لومړۍ ډله به چې جنت ته داخلېږي، مخونه به يې د بدر شپې د سپوږمۍ په شان روښانه وي، بيا به ورپسې هغه کسان وي چې د آسمان تر ټولو روښانه ځليدونکي ستوري په څېر وي، دوی به د کمال ځانګړتياوې لري چې نه به تشې متيازې کوي او نه ډکې، نه به لاړې تو کوي او نه بلغم، ږمنځې به يې د سرو زرو وي، خولې به يې د مشکو بوی لري، د بخورو د دودولو لوښي به يې تر ټولو ښايسته او پاکيزه بوی کوي، مېرمنې به يې حورالعين وي، دوی به په خلقت کې د يوه سړي په څېر وي؛ د خپل پلار آدم په څېر په صورت او قد کې چې قد به يې شپېته ذراعه لوړ وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65183